په **افغانستان**
کې د کاناډا ماموریت
www.afghanistan.gc.ca









# امنیت، د قانون واکمنۍ او د بشر حقونه

## د وړتیاوو د لوړولو او د حقونو د پیاوړتیا لپاره مرسته



یو کاناډایی تورن او افغان جګړن د عملیاتي د پلانونو د څېړلو په حال کې.

© کاناډايي ځواکونه

کاناډا د افغانانو سره مرسته کوي تر څو یو خوندي چاپیریال جوړ او وساتی کړي کوم چې د قانون د واکمنۍ په بنسټ او د ټولو افغانانو لپاره د بشري حقونو د پلی کولو او خوندیتوب په اصل باندې ولاړ وي.

### د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو روزنه

کاناډا به د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو په جوړولو کې د خپلې تېرې تجربې په دوام، ۹۵۰ کاناډايي پوځیان او خدماتي پرسونل په افغانستان کې د ناټو د روزنیز مأموریت په واک کې ورکړي، تر څو سرتېرو ته په داسې برخو کې لکه مشرتوب، روغتیایي مرستې، د سواد زده کړه، او نورو مهمو مسلکي مهارتونو کې روزنه ورکړي. د کاناډا هڅې به په کابل کې متمرکزې وي خو دوه سیمه ایز سټلایټونه به په هرات او مزارشریف کې ولري.

همدارز، کاناډا به شاوخوا ۴۵ تنه کاناډايي ملکي پولیس د کورنیو چارو وزارت او افغان ملي پولیسو د لارښوونې او روزنې لپاره وګماري.د کاناډا مأموریت به د غښتلو او اغیزمنو سازماني جوړښتونو په چمتو کولو کې مرسته وکړي، د فساد ضد اغیزمنو اقدامونو نه به ملاتړ وکړي او د افغانستان د ملي پولیسو په لا مسلکي کولو کې به مرسته وکړي.

په افغانستان کې د کاناډا روزنیز مأموریت د افغانستان حکومت او د نړیوالې ټولنې موخه چې د تر ۲۰۱۴ کاله پورې به افغانانو ته امنیتي مسؤولیتونه سپارل کېږي، ملاتړ کوي. کانادا دې ته ژمنه ده تر څو د افغانانو سره مرسته وکړي چې افغانستان د داسې یو بریالي هیواد په توګه بیاودان کړي چې د ښې حکومتدارۍ لرونکی وي، امن او ثبات ولري او بیا هیڅ کله د ترهګرو لپاره په پټنځای بدل نشي.

### د بشر حقونه او عدالت

زمونږ یوه مهمه موخه د افغانانو د وړتیاوو پیاوړي کول دي تر څو د خپلو حقونو نه دفاع وکړي او د افغانستان د حکومت سره مرسته وکړي تر څو خپل اړوند د بشري حقونو مسوولیتونه ترسره کړي.زمونږ د مرستو په ادامه، کاناډا به د ځانګړو پروګرامونو په عملي کولو سره د بشري حقونو په ساتنه او خوندیتوب کې، او د عدلي سکټور په بیاجوړولو کې د عدلیې وزارت سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي، د دې هڅو ځانګړې پاملرنه به د ښځو اړتیاوو ته وي. همدارز، کاناډا به په افغانستان کې د تل پاتې سولې په راوستو کې خپلو هلوځلو ته دوام ورکړي، کوم چې به د افغاني ټولنې د ټولو اړخونو تر منځ او د ښځو او زیان منونکو ډلو په شمول، د خبرو اترو له لارې وي. کاناډا د همدې ژمنې سره سم، د هغو پروګرامونو سره مرسته کوي کوم چې د ۲۰۰۹ کال د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو قانون د پلي کولو لپاره عملي کیږي او د بشري حقونو د داسې داخلي سازمانونو سره مرسته کوي کوم چې د ټولو افغانانو لپاره د برابرو حقونو د تأمینولو او د تاوتریخوالي نه ډک عملونو د څېړلو لپاره کار کوي.